**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**

**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۵۹** (از ۱۴ الی ۲۱ حمل ۱۳۹۵ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ..... ۲

**د لوړپوړو چارواکو استعفاوې؛ آیا حکومت د «سیاسي سقوط» په لور روان دی؟**

- د لوړپوړو چارواکو د استعفاوو لړی ..... ۴
- د پرله‌پسي استعفاوو ترشا عوامل ..... ۵
- پر ملي وحدت حکومت د خلکو باور ..... ۷
- د سیاسي سقوط توکي ..... ۷
- د ملي وحدت حکومت راتلونکی ..... ۸

**وضعیت مهاجرین افغان در اروپا: مواقف و پیامدها**

- پیشینهٔ مهاجرت افغان‌ها به اروپا ..... ۱۰
- عوامل مهاجرت افغان‌ها به اروپا ..... ۱۲
- سیاست‌های کشورهای اروپایی ..... ۱۲
- عوامل تشدید روند اخراج مهاجرین از اروپا ..... ۱۳
- موقف حکومت افغانستان ..... ۱۴
- آیندهٔ مهاجرین افغان در اروپا ..... ۱۵

## مقدمه

له څو میاشتو راهیسې یو شمېر افغان چارواکو یو پر بل پسې استعفاوې ورکړې او د ډېری دغو استعفاگانو لاملونه هم نه دي په ډاگه شوي. د افغانستان د پارلمان غړو هم پر دغه وضعیت توند غبرگون ښودلی. پوښتنه دا ده، چې د دغو پرله‌پسې استعفاوو لاملونه څه دي او د افغان حکومت او په ټوله کې د هېواد په روان وضعیت به یې اغېزې څه وي؟

د تحلیل په دویمه برخه کې، په اروپا کې د افغان کډوالو د وضعیت په اړه لولئ. اروپا ته په تېر څه باندې یوه کال کې تر یو مېلیون زیات کډوال رسېدلي دي، چې له سوریې وروسته زیات کډوال یکې افغانان دي. په اروپا کې د کډوالو قضیه د بېلابېلو عواملو له کبله په یوه بحران بدله شوه او له څو میاشتو راهیسې د اروپایي هېوادونو سیاستونه او دریځونه هم په دې اړه بدلېږي. په وروستي اقدام کې د اروپایي ټولنې او ترکیې ترمنځ د یوه هوکړه‌لیک له مخې یو شمېر گډوال له یونان څخه بېرته ترکیې ته انتقال شول او له هغه ځایه به خپلو هېوادونو ته استول کېږي. که څه هم د دغو کډوالو ډېره برخه پاکستانیان دي؛ خو دا چې په اروپایي هېوادونو کې د افغانانو د منل کېدلو چانس کم دی، د دغو ایستل کېدونکو کډوالو ډېره برخه به افغان وي.

په اروپا کې د افغان کډوالو په تړاو د افغان حکومت دریځ هم متذبذب دی او په دې تړاو د افغان چارواکو په متضادو دریځونو هم نیوکې شته دي.

د اوونۍ تحلیل په دې گڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونیز تحلیل څانگې، شننې او څېړنې لولئ.

# د لوړپوړو چارواکو استعفاوې؛ آیا حکومت د «سیاسي سقوط» په لور روان دی؟



د ملي وحدت حکومت د جګپوړو چارواکو پرله‌پسې استعفاوو او له دندو ګوښه کېدو یو شمېر بې‌ځوابه پوښتنې زېږولې دي. دا هغه چاره ده، چې د حکومت د لا ډېر تزلزل لامل شوې او داسې ښکاري چې د استعفاوو دا لړۍ به نوره هم وغځېږي.

د چارواکو استعفاوې داسې مهال دي، چې لاهم د ملي وحدت حکومت له یو نیم کال عمر وروسته، کابینه نه ده تکمیل شوې او ورځ تر بلې له ننګونو سره د هېواد د مخ کېدو اندېښنې په زیاتېدو دي. د افغانستان پارلمان ځینو غړو هم د لوړپوړو چارواکو په پرله‌پسې استعفاوو اندېښنه وښوده او دا چاره یې د مدیریتي خلا د رامنځته کېدو لامل وبلله.[1]

دلته د ملي وحدت پر حکومت د خلکو د باور، د پرله‌پسې استعفاوو د لاملونو او د حکومت پر راتلونکي یې اغېزې لولئ.

---

[1] د چارواکو استعفاوې او د مشرانو جرګې غوسه، ازادي راديو، انلاین: http://pa.azadiradio.com/a/27642009.html

## د لوړپوړو چارواکو د استعفاوو لړۍ

له تېرو څو میاشتو راهیسې، یو شمېر چارواکو پرله‌پسې استعفاوې ورکړې دي. ځینې مهم چارواکي چې په تېرو څو میاشتو کې یې استعفاوې ورکړې دي، په لاندې ډول دي:

د سیمه‌ییزو ارګانونو د خپلواکې ادارې رییس جیلاني پوپل د ۱۳۹۴ کال په قوس میاشت کې استعفا ورکړه او دا اداره تراوسه د سرپرست له خوا اداره کېږي.

د ملي امنیت عمومي رییس رحمت الله نبیل د ۱۳۹۴ کال په قوس میاشت کې له خپلې دندې استعفا ورکړه او دا اداره تراوسه د سرپرست له خوا اداره کېږي.

د کورنیو چارو وزیر نورالحق علومي د ۱۳۹۴ کال په دلوې میاشت کې له خپلې دندې استعفا ورکړه او دا اداره هم تراوسه د سرپرست له خوا اداره کېږي.

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون رییس یوسف نورستاني څو ورځې وړاندې (د ۱۳۹۵ کال د حمل په ٦مه) له خپلې دندې استعفا ورکړه او د نوموړي استعفا د ټاکنو د اوسني خپلواک کمیسیون د ړنګېدو پیلامه وبلل شوه.

د کانونو او پطرولیم وزیر داوود شاه سبا (د ۱۳۹۵ کال د حمل په ۹مه) له خپلې دندې استعفا ورکړه او تراوسه یې پر ځای بل څوک نه دی معرفي شوی.

د هېواد ترټولو ناامن ولایت هلمند والي میرزاخان رحیمي هم څو ورځې وړاندې (د ۱۳۹۵ کال د حمل په ۱۰مه) له خپلې دندې استعفا ورکړه او اوس د وردګو والي حیات الله حیات دغه ولایت ته تبدیل شوی، خو لا یې رسما کار نه دی پیل کړی.

## د پرله‌پسې استعفاوو ترشا عوامل

که څه هم هر حکومت له بېرون څخه له اختلافاتو سره مخ کېږي او دا چاره تر یوه بریده طبیعي هم ده؛ خو هر کله چې په حکومت کې دننه اختلافات پیل شي او دا اختلافات بیا لوړې کچې ته ورسېږي، نو له یوې خوا پر حکومت د خلکو باور کموي او له بلې خوا د حکومت سیاسي سقوط ته هم زمینه برابروي.

همدا لامل دی، چې په دغسې حالاتو کې ځینې لوړپوړي چارواکي یا خو په خپله خوښه استعفاوې کوي او یا هم د فشارونو له کبله استعفا ته اړ کېږي. خو بیا هم کوم چارواکي چې استعفا کوي، د عامه افکارو د اندېښنو له منځه وړلو لپاره باید د خپلې استعفاوو لاملونه روښانه کړي، البته تراوسه ډېری هغو چارواکو چې استعفاوې یې ورکړې دي، د خپلو استعفاوو اصلي لامل نه دی په ډاګه کړی. دا چې د اوسنیو پرله‌پسې استعفاوو تر شا کوم لاملونه دي، موږ یې لاندې ټکي احتمالي عوامل بولو:

1. **خپله د ملي وحدت حکومت فلسفه:** د نړۍ په ډېرې هېوادونو کې د ملي وحدت حکومتونه له اوږدو جګړو وروسته رامنځته کېږي؛ خو بیا هم په کومو هېوادونو کې چې د ملي وحدت حکومتونه تجربه شوي (د بېلګې په ډول زمبابوې، کینیا او کمبوډیا) هلته دا حکومتونه ناکام شوي او یوازې یې تر څو کلونو پورې دوام کړی دی.

   په افغانستان کې هم د ملي وحدت حکومت، د ټاکنو د پایلو پر سر له لانجې وروسته رامنځته شو، چې دغه حکومت بیا د څو ډوله ډلو او څو ډوله ایډیالوژیو خاوندانو ته یو چتر ورکړ او دوی تر دغه چتر لاندې سره راټول شول. خو دوی له ډېر پخوا یو بل سره اختلافات درلودل، له همدې امله دغه اختلافات بیا د حکومت د یو شمېر دریځونو پرمهال هم رابربنډ شول او اوس دغه اختلافات د استعفاوو تر بریده رسېدلي دي.

2. **داخلي اختلافات:** د ځینو چارواکو د استعفا یو لامل هم د حکومت داخلي اختلافات دي. د ملي وحدت حکومت د سیاسي هوکړه‌لیک له مخې باید له پارلماني ټاکنو وړاندې په ټاکنیز نظام کې اصلاحات رامنځته شي، چې له مخې یې د ولسمشر د یوه فرمان له مخې د نویو کمیشنرانو د ټاکنې لپاره یوه کومېټه جوړه شوه؛ خو د ټاکنو خپلواک کمیسیون دا کار ناقانونه وباله او د دغه کمیسیون رئیس د ټاکنو نېټه اعلان کړه. اوس که څه هم یوسف نورستاني د خپلې استعفا لامل د ملي ګټو

خونديتوب بللی، خو بيا هم نوموړی د يو لړ فشارونو له کبله استعفا ته اړ شوی. دا فشارونه هم تر ډېره د ټاکنيزو اصلاحاتو په تړاو د حکومت له داخلي اختلافاتو سرچينه اخلي.

دا اختلافات د حکومت له جوړېدو سره پيل او تراوسه دوام لري. هر کله چې د حکومت يو مشر د کوم پوستې لپاره نومول کېږي، بل مشر يې مخالفت کوي او همدا لامل دی چې لاهم د حکومت ډېری اداري لاهم د سرپرستانو لهخوا اداره کېږي.

3. **د خلکو پراخې نيوکې:** د ۲۰۱۴ کال د ولسمشريزو ټاکنو له اوږدېدو او جنجالي کېدو وروسته هېواد د کړکېچ په لور روان شو، خو کله چې د دوو نوماندانو ترمنځ د سياسي توافق له مخې ټاکنيزو جنجالونه حل شول، خلکو په حکومت پوري څه ناڅه هيلې وتړلې او ترڅنګ يې دواړو نوماندانو خلکو ته ټينګې ژمنې هم ورکړې وې. د دغه حکومت له يوه نيم کال وروسته د هېواد وضعيت ورځ تر بلې د خرابېدو په لور روان دی او دې چارې د خلکو پراخې نيوکې له ځان سره لرلې دي. دا هم هغه لامل دی، چې ځينې چارواکي تر فشار لاندې راشي او ان استعفا ته اړ شي.

4. **تخريبي کړی:** يو شمېر مطرح سياسي شخصيتونه او سياسي کړی چې په ملي وحدت حکومت کې ونډه ورنه کړل شوه، له هماغه پيله د دغه نظام د تخريب هڅې او تبليغات کوي. داسې انګېرل کېږي، چې د دغو هڅو موخه ببړنی ولسمشريزې ټاکنې دي.

5. **سياسي فشارونه:** ځينو چارواکو له دې کبله استعفاوې ورکړې چې د حکومت د مشرانو له خوا د دندې پرېښودو لپاره فشارونه پرې وارد شوي. دا ډول فشارونه تر ډېره د حکومت د مشرانو د اختلافاتو له کبله شوني دي. د بېلګې په ډول د کورنيو چارو وزير يو ياداشت خپور کړی او پکې ويلي يې دي، چې په ده باندې له بېلابېلو خواوو فشارونه وو. د دې ترڅنګ نوموړي په خپل ياداشت کې ويلي، چې د ده د کار په موده کې د شخصي سليقو له مخې ۵۸ ځله ملي شورا ته غوښتل شوی دی.[2]

6. **د حکومت سياستونه:** همدا راز بل لامل د حکومت د ناسمو سياستونو پايله ده، چې وزيران او چارواکي نه غواړي نور د دغو ناسمو سياستونو مسؤول وبلل شي. له همدې ځايه دغه چارواکي د حکومت پر سياستونو د نيوکې او اختلافاتو له کبله استعفاوې کوي.

---

[2] نورالحق علومي د ځينو سياسيونو له خوا تر فشار لاندې و، ازادي راديو، انلاين:
http://pa.azadiradio.com/a/27573570.html

## پر ملي وحدت حکومت د خلکو باور

په تېرلیز ډول دا مهال افغان حکومت تر ډېره په ناسم لوري روان دی. اقتصادي وضعیت ورځ تر بلې خرابېږي، کاروباري باور کمېږي (په ۱۳۹۴ کال کې د تېر کال په پرتله پانګونه ۲٦سلنه کمه شوې)، خلک له هېواده په تېښته دي (تېر کال یوازې اروپا ته له دوه‌نیم لکه زیات افغانان ولاړل) او بې‌کاري هم په اوج کې ده.

د بېلابېلو سروې‌ګانو له مخې پر ملي وحدت حکومت د خلکو باور ورځ تر بلې کمېږي. د بېلګې په ډول د ایشیا فاونډېشن د ۲۰۱۵ کال د سروې له مخې، په ۲۰۱۵ کال کې یوازې ۳٦.۷ سلنه خلک هېواد پر سم لوري روان ګڼي، چې دغه سلنه بیا په تېر لس کلن تاریخ کې تر ټولو کمه سلنه ده او د تېر کال له ۵۴.۷ سلنې څخه راکمه شوې[3]. همدا راز په دې وروستیو کې د امریکا د ګلوپ څېړنیز مرکز هم د افغانستان په اړه سروې کړې، چې له مخې یې ۸۱ سلنه خلک د ملي وحدت له حکومت څخه ناراضه دي او یوازې ۱۷ سلنه خلک د حکومت له کړنو خوښ دي.

## د سیاسي سقوط توکي

د ۲۰۱٦ کال په فبرورۍ میاشت کې د امریکا د ملي امنیت مشر جیمز کلیپر د امریکا په سنا مجلس کې وویل، چې په ۲۰۱٦ کال کې افغانستان له سیاسي سقوط سره مخ دی. څکه د ده په اند، په هېواد کې امنیتي او اقتصادي ننګونې زیاتې شوې او له بلې خوا محلي زورواکي او طالبان هم پیاوړي شوي دي.

دا چې د جیمز کلیپر د دغې خبرې ترشا به همدغه پورتنې عوامل وي، چې ده یې یادونه کړې او که دغه بیان به یې د یوه سیاسي فشار په توګه ورکړی وي، تر اوسه معلومه نه ده؛ خو بیا هم که اوسمهال د هېواد عمومي وضعیت ته ځیر شو نو د سیاسي سقوط لپاره چې کوم توکي په کار دي، هغه اوسمهال شته دي، د بېلګې په ډول:

- اقتصادي حالات خراب دي؛ پانګونه کمه شوې، بې‌کاري زیاته شوې، حکومت د خپلو فعالیتونو لپاره د تېرو پنځلسو کلونو په څېر بهرنیو مرستو ته سترګې په لاره دی؛
- په نظامي ډګر کې د هېواد امنیت د حکومت د وسله‌والو مخالفینو له‌خوا، له هر بل وخت نه زیات ننګول کېږي؛

---

[3] د نورو معلوماتو لپاره وګورئ، د ایشیا فاونډېشن د ۲۰۱۵ کال سروې، په لاندې لینک کې:
http://asiafoundation.org/resources/pdfs/Afghanistanin2015PrefaceExecSummary.pdf

- د افغان حکومت د سولې تګلاره تر ډېره ناکامه برېښي؛
- په خپله د ملي وحدت حکومت دننه مخالفتونه شته دي (دغو مخالفتونو اوس د کړکېچونو او وسله‌والو نښتو جامه هم رانغاړلې ده. د بېلګې په ډول په بلخ کې د دغه ولایت د والي عطامحمد نور او د ولسمشر د لومړي مرستیال جنرال عبدالرشید دوستم د ډلګیو ورې نښتې)؛
- د ملي وحدت حکومت د دوو لوریو کسان هم په خپلو کې مخالفتونه لري؛
- د ملي وحدت حکومته دباندې د مخالفو لوریو اپوزیسیوني جبهې؛
- ورځ تر بلې د خلکو زیاتېدونکې بې‌باوري؛
- د ځینو بهرنیو لورو له‌خوا د سیاسي سقوط په اړه ګواښونه او اشارې او داسې نور.

## د ملي وحدت حکومت راتلونکی

ځینې مهال د لوړ پوړو چارواکو کوښه کول او استعفاوې د حکومت لپاره یو فرصت وي، چې دوی پکې له یوې خوا د یوه وزیر په لرې کولو سره پر حکومت د خلکو باور زیاتوي او له بلې خوا د یوې نوې څېرې او وزیر له راتګ سره کارونه پر سم لوري روانول غواړي. البته دغه حالت هغه مهال بریالی کېږي، چې حکومت په دې وتوانېږي چې د وزیر کړنې ناسمې ثابتې کړي.

خو که اوسنیو پرله‌پسې استعفاوو ته ځیر شو، نو که څه هم دغه چاره حکومت ته ډېره ستره ننګونه هم نه ده؛ خو بیا هم د لوړ پوړو چارواکو استعفاوې او لرې کول به د دوی ستونزې نورې هم زیاتې کړي او پر حکومت به د خلکو بې‌باوري نورې هم زیاتې شي. د لوړپوړو چارواکو د استعفاوو دغه لړۍ خلک له دې کبله هم اندېښمنوي، چې ستونزه په حکومت کې ده، نه په وزیرانو او چارواکو کې. بیا که په دویم قدم کې دغه مستعفي وزیران او چارواکي له اپوزیسیوني جبهو سره یوځای شول، هله به بیا د ملي وحدت حکومت لپاره یو جدي سرخوږی شي.

# وضعیت مهاجرین افغان در اروپا: مواقف و پیامدها




بر اساس گزارش‌های رسانه‌های غربی، قرار است اتحادیهٔ اروپا بر مبنای یک طرح مخفی، ۸۰۰۰۰ پناهجوی افغان را دوباره به افغانستان بفرستد.[4] پناهجویان افغان در اروپا با مشکلات گونه‌گون مواجه اند و از همین‌رو روز چهارشنبه ۱۸ حمل (۱۳۹۵) وزرای خارجه، داخله و امور مهاجرین و عودت‌کننده‌گان افغانستان، در ارتباط به بحران پناهجویان به جلسهٔ استجوابیهٔ ولسی جرگه حضور یافتند.

در این اواخر رئیس جمهور افغانستان نیز موقف سختی را در قبال پناهجویان افغان در اروپا اتخاذ نموده و از سوی هم اتحادیهٔ اروپا با ترکیه توافق نموده تا مهاجرینی را که از طریق ترکیه با اروپا می‌روند، دوباره به ترکیه برگردانند.

بر بنیاد ارقام سازمان بین‌المللی مهاجرت (IOM)، ۱.۱۸۷ ملیون مهاجر از آغاز سال ۲۰۱۵ بدین‌سو وارد اروپا شده‌اند که از این جمله ۲۴۰۰۰۰ تن آن‌ها افغان‌ها اند[5]. بر اساس گزارش روزنامهٔ واشنگتن‌پوست، تنها در سال ۲۰۱۵ حدود

[4] Secret EU plan to deport 8000 Afghans, Telegraph.
http://www.telegraph.co.uk/news/worldnews/asia/afghanistan/12200582/Secret-EU-plan-to-deport-80000-Afghans.html

[5] Thousands of Afghan migrants have hit a dead end in Turkey, Economist, 2016-April-5.
http://www.economist.com/news/europe/21696242-town-van-boasts-mountains-lake-and-stranded-asylum-seekers-thousands-afghan-migrants-have

۱۸۰۰۰۰ افغان در کشورهای اروپایی در خواست پناهنده‌گی داده‌اند.[6] پیش از این، وزارت مهاجرین و عودت کننده‌گان افغانستان نیز گفته بود که در سال گذشته میلادی حدود ۲۵۰ هزار افغان تا پایان سال ۲۰۱۵ در کشورهای اروپایی در خواست پناهنده‌گی داده‌اند. در همین حال، در سال گذشتۀ میلادی ۳۶۰۰ تن افغانی که از راه‌های غیرقانونی راهی اروپا بودند، توسط پولیس ترکیه دستگیر شده‌اند و صدها تن دیگر در آب‌های مدیترانه غرق شدند.

روند مهاجرت افغان‌ها به اروپا، عوامل مهاجرت افغان‌ها به اروپا، مراحل مختلف سیاست‌های کشورهای اروپایی، موقف حکومت افغانستان در مورد پناهجویان افغان، مسائلی اند که در این بخش تحلیل هفته به آن پرداخته شده است.

## پیشینۀ مهاجرت افغان‌ها به اروپا

از سال ۱۹۹۱ الی ۲۰۰۱ شمار افغان‌هایی که در کشورهای اروپایی درخواست پناهنده‌گی داده بودند، سیر صعودی داشته است؛ چنانچه این ارقام از ۸۵۴۲ در ۱۹۹۱ به ۱۲۹۴۳ در ۱۹۹۷ و به ۲۳۶۷۸ در سال ۲۰۰۰ میلادی رسید. در سال ۲۰۰۱ زمانیکه امریکا و ناتو بر افغانستان حمله کرد، تعداد مهاجرین افغان که در کشورهای اروپایی درخواست پناهنده‌گی داده بودند، به ۵۰۹۴۶ تن افزایش یافت. (جدول الف)

**جدول الف: افغان‌های متقاضی پناهنده‌گی در اروپا (۱۹۹۱-۲۰۰۱)**

| سال | تعداد متقاضیان پناهنده‌گی |
|---|---|
| ۱۹۹۱ | ۸۵۴۲ |
| ۱۹۹۷ | ۱۲۹۴۳ |
| ۲۰۰۰ | ۲۳۶۷۸ |
| ۲۰۰۱ | ۵۰۹۴۶ |


پس از سال ۲۰۰۱ تعداد افغان‌های راهی اروپا رو به کاهش نهاد و در سال ۲۰۰۳ درخواست‌های پناهنده‌گی افغان‌ها در کشورهای اروپایی به ۱۴۰۱۷ مورد و در سال ۲۰۰۵ به ۷۴۸۲ مورد رسید.

[6] Europe wants to deport Afghan migrants but Kabul is reluctant to accept them, Washington Post, 2016-March-17. https://www.washingtonpost.com/world/asia_pacific/europe-wants-to-deport-afghan-migrants-but-kabul-is-reluctant-to-accept-them/2016/03/17/8b2d9e6a-e54e-11e5-a9ce-681055c7a05f_story.html

ولی در سال‌های بعد از ۲۰۰۵ با تشدید ناامنی‌ها در کشور، روند مهاجرت افغان‌ها به اروپا بار دیگر سرعت گرفت[7]. در سال ۲۰۰۸ حدود ۴۹۷۸۰ تن مهاجر غیرقانونی افغان در اروپا موجود بود. در سال‌های ۲۰۰۹ و ۲۰۱۰ این ارقام کاهش نسبی یافت و در سال ۲۰۱۰ میلادی به ۴۱۴۱۰ تن رسید، ولی پس از آنکه ناامنی‌ها یک‌بار دیگر در ۲۰۱۰ شدت گرفت در سال ۲۰۱۱ تعداد مهاجرین افغان در اروپا به ۴۵۴۸۰ تن افزایش یافت. سال بعدش ۲۰۱۲ تعداد مهاجرین غیرقانونی در اروپا به ۳۳۸۰۵ تن کاهش یافت.

در سال‌های ۲۰۱۴ و ۲۰۱۵ شمار زیادی افغان‌ها از راه‌های غیرقانونی به اروپا رفتند. در ۲۰۱۴ این تعداد به ۵۸۰۰۰ رسید و در سال ۲۰۱۵ شمار پناهجویان همه کشورهای جنگ‌زده در اروپا، به صورت بی‌سابقه افزایش یافت و پناهجویان افغان نیز در این سال به ۲۴۰ هزار تن رسیدند. (رسم توضیحی-۱)

**رسم توضیحی-۱: افغان‌های متقاضی پناهنده‌گی در اروپا (۲۰۰۱-۲۰۱۵)**




7 Afghanistan_Migration_Country_Report, See it Online: https://www.budapestprocess.org/component/attachments/download/166

## عوامل مهاجرت افغان‌ها به اروپا

**ناامنی و بی‌ثباتی سیاسی:** در سال ۲۰۱۵ میلادی حدود ۳۰۰۰۲ تن، به شمول افراد ملکی و نظامی در افغانستان کشته و یا زخمی شده‌اند. در کشوری که حدود ۳۰ ملیون نفوس دارد این رقم تلفات فاجعه‌بار است. در کنار این، اختلافات داخلی حکومت و تقسیم قدرت ۵۰-۵۰ میان سران حکومت وحدت ملی، وضعیت سیاسی کشور را نیز متزلزل ساخت. از همین‌رو افغان‌ها در پی وخیم شدن اوضاع در افغانستان، از صلح و ثبات و بهتر شدن وضعیت سیاسی و امنیتی در افغانستان ناامید شدند و برای جستجوی وضعیت بهتر زنده‌گی، راهی اروپا شدند.

**وضعیت خراب اقتصادی:** با پایان سال ۲۰۱۴ از یک‌سو کمک‌های خارجی کاهش یافت و مؤسسات غیردولتی خارجی در افغانستان که توسط خارجی‌ها تمویل می‌شدند، فعالیت‌های خویش را متوقف ساختند و از سوی دیگر به دلیل نگرانی‌ها از وضعیت کشور پس از سال ۲۰۱۴ سرمایه‌های زیادی از افغانستان فرار نمود که این وضعیت باعث بی‌کاری گسترده در افغانستان شد. به این ترتیب اقتصاد افغانستان نیز در وضعیت بدی قرار گرفت، چنانچه ارزش پول افغانی نیز از ۵۰ افغانی در مقابل یک دالر امریکایی به بالاتر از ٦٥ افغانی در مقابل فی دالر امریکایی رسید. این اوضاع نیز باعث شد تا شمار زیادی از افغان‌ها کشور را ترک گفته و به سوی اروپا حرکت کنند.

**پذیرش مهاجرین در اروپا:** هرچند شرایط ناگوار جنگ، بی‌ثباتی سیاسی، بی‌کاری و فقر دلایل اصلی مهاجرت افغان‌ها به اروپا است، ولی اعلام آلمان برای پذیرش مهاجرین نیز سبب شد، تا هزاران افغان کشور خود را ترک کنند و به منظور رسیدن به آن کشور راه مهاجرت را در پیش گیرند. در حالیکه افغانستان در وضعیت نسبی بهتری نسبت به کشورهای مانند سوریه قرار دارد.

## سیاست‌های کشورهای اروپایی

در چند سال‌های اخیر جنگ، ناامنی، فقر تنگ‌دستی و عوامل دیگر باعث گردید تا مردم از شرق میانه، افغانستان، افریقای شمالی و افریقای جنوبی به اروپا مهاجرت نمایند که این روند در اثر کثرت مهاجرین و تلفات شان در طول راه و مشکلاتی که در اروپا برای این مهاجرین پیش آمد، به بحران مبدل گردید.

کشورهای اروپایی نیز در اوقات مختلف موقف‌های گوناگون را در مورد پناهجویان اختیار نمودند. مواقف حکومت‌های اروپایی در قبال پناهجویان را می‌توان در سه مرحله بیان نمود:

**مرحلۀ اول:** در این مرحله کشورهای اروپایی موقف‌های متفاوت را اتخاذ می‌نمودند، چنانچه آلمان مرزهای خویش را باز گذاشت و نیز از پذیرش ۸۰۰۰۰۰ پناهجو خبر داد، در حالیکه انگلستان موقف شدیدتری را به پیش گرفته بود. اما

پس از نشر تصویر جسد یک کودک سوری اخباری از تصمیم سیاست‌مداران کشورهای مختلف در مورد تسهیل پذیرش پناهجویان شنیده می‌شد و از این جمله بریتانیا نیز برای پذیرش پناهجویان اعلام آمادگی کرد.

**مرحلهٔ دوم:** پناهجویان بیشتر در کشورهای ساحلی مانند یونان و ایتالیا و کشورهای هم‌جوار آن تجمع نمودند، از همین‌رو کشورهای اتحادیهٔ اروپا گردهم آمدند و با وجود مخالفت برخی از کشورهای اروپایی در اتحادیهٔ اروپا، توافق کردند تا این پناهجویان را در بین کشورهای عضو اتحادیهٔ اروپا تقسیم نمایند. بر اساس این طرح، پناهجویان را از کشورهای ایتالیا، یونان و هنگری به کشورهای دیگر عضو اتحادیه اروپا منتقل می‌نمودند.[8]

**مرحلهٔ سوم:** پس از انفجار‌های پاریس و بروکسل، کشورهای اروپایی یک‌بار دیگر مواقف خود را در این مورد تغییر دادند و در این راستا اتحادیهٔ اروپا با ترکیه قراردادی را به امضاء رسانید که بر اساس آن مهاجرین به ترکیه برگشت داده می‌شوند و در مقابل هر مهاجری که به ترکیه برمی‌گردد یک مهاجر سوری که در کمپ‌های مهاجرت در ترکیه به سر می‌برند به اروپا انتقال خواهد یافت. این قرارداد پس از ۲۱ مارچ ۲۰۱٦ تنفیذ گردید.

ولی باید گفت که موقف کشورهای اروپایی درقبال افغان‌ها از همان ابتداء طوری بود که آن‌ها را بیشتر مهاجرین اقتصادی قلمداد می‌نمودند و یا هم به بهانهٔ اینکه در افغانستان امنیت نسبتاً بهتر است، به آنها حق پناهنده‌گی نمی‌دادند.

## عوامل تشدید روند اخراج مهاجرین از اروپا

1. **انفجارات اخیر در اروپا:** در ۱۳ نوامبر ۲۰۱۵ حملاتی در پاریس صورت گرفت که ۱۳۰ کشته برجا گذاشت و به تعقیب آن کشورهای اروپایی تدابیر شدیدتری را در قبال مهاجرین روی دست گرفتند[9]. ولی حالا بعد از حملات بروکسل، کشورهای اروپایی در صدد اخراج بیشتر مهاجرین اند. پس از سوری‌ها افغان‌ها دومین گروه بزرگ پناهجویان را در اروپا تشکیل می‌دهند و از سویی هم اروپایی‌ها کمتر به اخراج سوری‌ها می‌پردازند و به این ترتیب افغان‌ها بیشترین قسمت پناهجویانی را تشکیل می‌دهند که از اروپا اخراج می‌شوند. این درحالیست که تا هنوز در هیچ یک از حوادثی که در اروپا به وقوع پیوسته است، افغان‌ها دخیل نبوده‌اند.

[8] Migrant crisis: opponents furious over new EU quotas, BBC, 2015-Sep-22. http://www.bbc.com/news/world-europe-34331126

[9] EU ministers order tighter border checks in response to Paris attacks, The Guardian, 2015- Nov-20. http://www.theguardian.com/world/2015/nov/20/eu-ministers-order-tighter-border-checks-in-response-to-paris-attacks

2. **افکار عامه مردم اروپا:** هرچند گزارش‌ها از وضعیت خراب مهاجرین در کشو‌های شان و نیز مشقت‌هایی را که در راه متحمل می‌شدند، باعث گردیده بود تا افکار عامه در اروپا برای قبولی مهاجرین مساعد گردد، ولی پس از حوادث اخیر در اروپا افکار عامه نیز در مورد مهاجرین تغیر نموده و مردم اروپا دلیل آن را موجودیت مهاجرین در کشورهای خود می‌دانند. از همین‌رو بر حکومت‌های شان در مورد بسته نمودن مرزها به روی مهاجرین و اخراج آن‌ها، فشار وارد می‌نمایند.
3. **تفاوت‌های فرهنگی:** پناهجویانی که از افغانستان و سایر کشورها به اروپا می‌روند، از لحاظ فرهنگی خیلی متفاوت از اروپایی‌ها اند از همین‌رو تفاوت فرهنگی نیز مشکلاتی را هم برای مهاجرین و هم برای کشورهای میزبان ایجاد نموده‌اند.

همین دلیل است که در این اواخر، دولت فدرال آلمان در همکاری با یک سازمان صحی، برای مهاجرین تازه‌وارد وب‌سایتی (به شمول فارسی و عربی، به دوازده زبان) به هدف بلند بردن سطح آگاهی مهاجرینی طرح‌ریزی نموده که فرهنگ آزاد غرب برای شان تازگی داشته و در برخی مواقع، نا آشنایی با ارزش‌های فرهنگی اروپا باعث می‌شود که سؤرفتارهای جنسی از آنان سر بزند. این اقدام به دنبال نشر گزارش‌هایی از آزار جنسی زنان از سوی پناهجویان تازه‌وارد در اروپا صورت گرفته است.

## موقف حکومت افغانستان

مقامات افغان در مورد پناهجویان افغان در اروپا نظر واحدی ندارند و هر از گاهی موقف‌های متفاوت را در این مورد اتخاذ می‌نمایند. رئیس جمهور افغانستان چندی پیش در سفر شش‌روزه‌اش به اروپا، با مقامات کشورهای اروپایی توافق نموده بود تا افغان‌ها را دوباره به کشور برگردانند و در این اواخر نیز در مصاحبه‌ای با بی بی سی گفت که «با مهاجرینی که اروپا رفته اند، همدردی ندارد[10]». این در حالیست که وزیر خارجۀ افغانستان روز چهارشنبه ٦ مارچ ۲۰۱٦ در پارلمان گفت که آن‌ها «با هفت کشور اروپایی توافقنامه‌هایی را به امضاء رسانیده‌اند و در تمام این توافقات بر خروج داوطلبانۀ افغان‌ها تأکید نموده‌اند[11].»

---

[10] President Ghani: “No sympathy for Afghan migrants”, BBC, 2016-March-31
http://www.bbc.com/news/world-asia-35932120
http://www.bbc.com/news/world-asia-35928538
[11] Forced deportation of refugees unacceptable: officials, Tolonews, 2016-April-6
http://www.tolonews.com/en/afghanistan/24623-forced-deportation-of-refugees-unacceptable-officials

از سوی دیگر وزارت مهاجرین و عودت کننده‌گان تاکید نموده که بازگشت اطفال زیر سن ۱۸ سال، معیوبین، فامیل‌های تحت سرپرستی زنان، و نیز افغان های که در مناطق شان جنگ جریان دارد، برای شان قابل قبول نمی‌باشد.

در نشست استجوابیهٔ پارلمان که وزیر مهاجرین نیز در آن حضور یافته بود، وکلا از عدم هماهنگی حکومت افغانستان در قبال مهاجرین انتقاد نموده، گفتند که موقف‌ها و رویکردهای حکومت افغانستان باعث گردیده تا با مهاجرین افغان در اروپا برخورد دوگانه صورت گیرد.

## آیندهٔ مهاجرین افغان در اروپا

با توجه به برخورد تبعیض‌آمیز اروپایی‌ها در برابر افغان‌ها و موقف‌های ناهماهنگ حکومت افغانستان در قبال مهاجرین در اروپا و عدم موجودیت پالیسی واضحی در مورد مهاجرین، آیندهٔ این معضل نیز تیره به نظر می‌رسد.

کسانیکه در اروپا پذیرفته می‌شوند و به آنها پناهنده‌گی داده می‌شود تا حدی در شرایط بهتری قرار خواهند داشت، ولی کسانیکه با هزینهٔ هزارها دالر و مشقت‌ها و خطرهای فراوان به اروپا رسیده‌اند و عده‌یی نیز که حتی خانه و زمین خویش را برای رسیدن به اروپا به فروش رسانیده‌اند و راهی اروپا شده‌اند، در صورت برگشت به افغانستان با مشکلات زیادی مواجه خواهند بود و دولت نیز از این ناحیه شدیداً تحت فشار قرار خواهد گرفت.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: (+93) 784089590

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.